واحد فقيري
١۶/٠١/٢٠١۶

# د کابل سياسي ګډوډي او د سولي خبري

د اسلام اباد د تيري دوشنبې په مذاکراتو کي د افغانستان، امريکا، چين، او پاکستان استازو برخه اخيستي وه. په افغانستان کي د سولي او امن د راوستلو لپاره د دې غونډي اعلاميه دواړي خواوي ـ افغان حکومت او طالبان – سمدستي مخامخ خبرو ته هڅوي، او د سولي د مذاکراتو لپاره د يو چوکاټ او ميکانيزم جوړول تشويقوي. د اسلام اباد د مجلس په تعقيب به بله ناسته د دوشنبې په ورځ په کابل کي کيږي. پدې غونډه کي به د سولي د لاري نقشه جوړيږي.

د څلور واړو ملکونو په کوښش په افغانستان کي د سولي د راوستلو په عرض دا مذاکرات پداسي حساس وخت کي پيل کيږي چي په وطن کي اوضاع کاملا بحراني او خطرناکه سوې ده. د طالبانو، داعشانو، او نورو افراطيانو حملې تر بل هر وخت ډيري سوي دي. حکومت تر بل هر وخت کمزوری او بې اعتباره سوی دی. او په منطقه کي، د سعودي – ايران سياسي او مذهبي رقابتونو او جمع د جهاديانو ملاتړ حالات نور هم مغشوش او متشنج کړي دي.

د سولي په مخ کي د نورو پرابلمونو تر څنګ، يو لوی مشکل دا دی چي اکثره افغانان له کابل، واشنګټن، او اسلام اباد څخه بېخي ناامیده سوي دي. ځکه د افغانستان په هکله نړيوال کانفرانسونه او د سولي په مقصد ښکاره او پټ ملاقاتونه دونه زيات سوي دي چي زياتره افغانان ئې د دغو بين المللي ناستو د برخوالو پر صداقت او موثريت باندي سخت بد بين او بې باوره کړي دي. دغه نااميدي او بد بيني په بين المللي سروې ګانو او د افغان او خارجي مبصرينو په تبصرو کي بار بار منعکس سوي دي. دغه راز، اکثريت افغانان - که دننه دي او که بهر دي - د دې درې واړو دخيلو قوتونو وعدې سستي او مصلحتي ګڼي.

لومړی، د کابل سياسي خوساتوب د رسوايي حد ته رسېدلی دی. ارګ تر خپلو پخو او سنګي ديوالونو پوري تجريد سوی دی، او په ټولنه کي کاملا بې اعتباره او بې حيثيته سوی دی. په هيواد کي اداري فساد، بې امني، او بې کاري د پخوا پرتله په کافي اندازه ډېره سوې ده. اقتصاد تر پخوا کمزوری سوی دی. دغه راز، په حکومت کي دننه بې نظمي او ګډوډي زياته سوې ده. د ملي وحدت د دوو پاچاهانو خپلمينځي دايمي جنګونو او کشمکشونو د حکومت ټولي چاري شنډي کړي، او په حکومت کي ئې سلسله مراتب له بېخه خراب کړي دي.

په سياسي لحاظ، د جمهورريس غني حکومت کاملا په يو وابسته او يا (Rentier ) حکومت باندي بدل سوی دی. دا ډول حکومتونه تل د بل چا په چانده او خيرات باندي چليږي. معاش، کور، ډوډۍ او کالي ئې د امريکا له خزانې څخه ورکول کيږي، او د ژوند، بقا، او مرګ تصميم ئې هم په واشنګټن کي نيول کيږي. همدا سبب دی چي دغه راز حکومتونه چندان ځان و افغانانو ته مسول نه احساسوي. تل ئې کوښښ دا وي چي سپينه ماڼۍ خوشحاله وساتي، ځکه تل ئې خرچه د خان له کوره وي.

خو له بده مرغه يو تاريخي واقعيت دا هم دی چي د جمهورريس غني د حکومت په شان وابسته او رينټير حکومتونو عموما سقوط کوي. ځکه په رينټير حکومت کي اصلاحات راوستل ناممکن سي. اداري فساد عام او مزمن سي. هيڅوک هيچا ته وفاداره نه وي. ټول د چور او تېښتي په چورت کي وي. په افغانستان کي د خلقي-پرچمي حکومت انجام د دې راز حکومتونو يو ښه مثال دی، خو په اسيا، افريقا، او لاتين امريکا کي په لسهاوو نور مثالونه هم سته.

دوهم، واشنګټن تل هڅه کوي چي په افغانستان کي د اوضاع پر وخامت باندي اعتراف و نه کړي. د ښاغلي اوباما د حکومت عالي رتبه مامورين کوښښ کوي چي په افغانستان کي وضع د تحمل وړ ښکاره کړي، او پرابلمونه پټ کړي. د افغانستان په برخه کي، اوباما سکوت اختيار کړی دی، او کانګرس ته ئې د خپلي کلنۍ وينا په ترڅ کي افغانستان مازي يو واري په بېړه ياد کړ. معنی اوباما هڅه کوي چي د افغانستان جنجال و آينده جمهورريس يا جمهورريسي ته تسليم کړي، او دی ځان ترې بې غمه کړي. په بل عبارت، د امريکا حکومت پدې پوهيږي چي د افغانستان وضع د يوې خطرناکي فاجعې په لور روانه ده. مګر ځرنګه چي د مشکل حل نه ورځي، نو بنا د اغفال او ځان غولولو لاره ئې خپله کړې ده. په اني او مقطعي د حل لارو باندي تکيه کوي. معنی د هر مشکل لپاره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

موقتي حل غواړي. د هيڅ ستونزي سره اساسي او بنيادي برخورد نه کوي. لنډه دا چي امريکا، ناټو، او نور ټول پدې پوهيږي چي امريکا يو داسي حکومت په کابل کي نصب او ساتلی دی چي پر خپلو پښو د دريدو توان نه لري.
ملي ځان بسياتوب ئې هدف او آرمان ندی. او تر ټولو بده لا دا چي په دننه کي پر متخاصمو ډلو باندي تقسيم سوی دی.
درېيم، افغانان دغه راز د اسلام اباد د همکاريو په ژمنو هم قطعا اعتبار نه لري. اکثره افغانان د پاکستان و هر عمل ته د شک په سترګه ګوري. پاکستان يو مکار ګاونډی ګڼي، او د کابل د حکومت په شمول ځيني افغانان خو په افغانستان کي د ټولو ستونزو مور ای ايس ای بلي.
په پای کي، البته دا خبره ټولو هوښيارانو ته معلومه ده چي د کابل په حکومت کي د څو تنو طالبانو اشتراک د افغانستان مشکل نه سي حلولای. بلي هو، عاقلان پدې هم پوهيږي چي اساسي مشکل د کابل حکومت په غير متجانس سياسي جوړښت کي دی. ستونزه د کابل حکومت په فساد او بد مديريت کي ده. پرابلم د واشنګټن په غفلت او خيالبافي کي دی. مشکل د اسلام اباد په چل ول کي دی. او بالاخره ستونزه د طالبانو په تشدد او افراطيت کي ده.
والسلام
واحد فقيري - واشنګټن


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ